ډاکټر رحمت ربی ځیرکیار: By: Dr. Rahmat Rabi Zirakyar


۳۰ اکتوبر ۲۰۱۵


# ملــي ګـټــې: د يـو ژور بـحـث لپاره

**۲**

***National Interests: For A Thorough Discussion***

### د ملي ګټو عملي بيلګې

په هندوستان کې د برتانيي پـرمختګ، فرانسويان ديته وهڅول چې که تـزاري روسيه د ځان سره ډلګرې کـړي. فـرانسوي واکمن جـنرال ناپـوليون بـوناپارت په ۱۸۰۷زييز کې د روسيې د تزار لومړي الکسندر سره په نيمين



سيند کې په جاله (کوچنی بيړی) کې وليدل او هغه ته يې د فـرانسـوي – روسـي ډلګرتيا او په هند باندې د انګريزانو په ضد د حملې وړانديز وکړ. روسانو د برتانويانوغونې زيـر کړ. په ۳ کالونو کې ( ۱۸۶۵ تر ۱۸۶۸) روسيه د تاشکند، سمر کند او بخارا پورې پـر مخ لاړه او د بـرتانوي او روسي استعمار په منځ کې د امپراتورۍ د دسيسو «لويه لوبه» (ګريټ ګيم) پيل شوه.

د ښکيلاګرو او امپرياليستانو خوي داسې دی چې د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره دنورو هيوادوونو ملي ګټې د پښو لانـدې کوي. د انګليستان دفاع په برتانوي هند کې پرته وه او د روسانو په مقابل کې دبرتانوي هند دفاع په افغانستان کې! انګريـز ښکيلاک ګرو په ۱۹زييزه پيړی کې لومړي د افغانستان د ژمي پلازمينه(پيښور) په ۱۸۳۵کې د رنجيت سينګ له لارې له افغانستان نه وشوکوله، اوپه ۱۸۷۹کې د ګـنـدمک په تحميل شوي او استعماري تړون کې د کورم او پيشين درې، د سيبۍ سيمه، او د خيبر کنډو د برتانې په اختيار کې ولويدل ، د افغانستان بهرنی او دفاعي

سیاست د برتانوي هند په مشوره پورې وتړل شواو په دې ډول په نیمه مستعمره (تحت الحمایه) حالت واوښت. نږدې ۱۴ کالونه وروسته، په۱۸۹۳ کې په نیمه مستعمره افغانستان د ډیورنډ غیرقانوني او ضد – بشري تړون وروتپل شو. په دې ډول انګریزانو بحر ته د افغانستان لاره غوڅه کړه او په ټول هیواد کې یې راتلونکي اقتصادي پرمختګ ته غټ پاټک واچاوه. امیر عبدالرحمان خان( ۱۸۰تر ۱۹۰۱) د انګریزانو د پیسو کڅوړه لیدلې وه، خو د ډیورند لیکې نقشه یې نه وه لیدلې! څلور کالونه وروسته د ۱۸۹۷په نیمایي کې، د ډیورنډ د رټلې کرښې په دواړو خواو کې پښتنو د استعماري سیاست په ضد ناڅاپي پاڅون پیل کړ. دغه ملي پاڅون چې پوره یو کال وغځید، په وزیرستان کې پیل شو او په شمال کې چترال ته ورسید. د ملي پاڅون د مخنیوي لپاره انګریزانو په زییز ۱۹۰۱ کې د کوزې خوا د پښتنو/افغانانو په سیمه کې «شمال غربي سرحدي صوبه» (ایالت) جوړکړ. دغه تش نوم (اسم بی مسما) چې د پښتون/افغان د پیژاند د ویجاړولو لپاره راتوږل شوی و، ۱۰۹ کالونه وروسته په ۲۰۱۰ کې په خیبر-پښتونخوا واوښت.

د لومړۍ نړۍ والې جګړې (۱۹۱۴ تر ۱۹۱۸) په وروستیو شیبو کې شوروي روسیې او جرمني د ۱۹۱۸ د مارچ د په ۳ نیټه د «بریست لیتوسک» د سولې تړون لاس لیک کړ. دا هغه مهال و چې ولادیمیر لینین د شوروي روسیې مشر و. لینین د حقوقو برۍ لیک لاسته را وړی و، خو ډیره پاملرنه یې سیاسي فعالیت ته کوله. لینن یو ناول ولوست چې روسي لیکوال نیکولای چیرنیشیوسکي په ۱۸۶۳ کې لیکلی و. د دغه ناول یو غټ لوبغاړی رخمیتیو نومیده چې په پټ سیاسي فعالیت کې لګیا و. رخمیتیو د لینین لپاره نمونه شو. لینین او د جرمني واکمنان په طبقاتي لحاظ د یوبل غلیمان وو، خو د ملي ګټود خوندي کولو لپاره د یوبل همکارۍ ته اړوو. ولادیمیر لینین روسیې ته په غیر له لنډو او پټو سفرونو نه، له ۱۹۰۰ تر اپریل ۱۹۱۷پورې په اروپا کې اړولي وو. د ۱۹۱۷ په اپریل کې جرمن حکومت د خپل هیواد له لارې روسیې ته د لینین او نورو بلشویکانو د تللو تابیا کړې وه او په محفوظ ډول یې د اورګاړي په مهر- لاک شوې ډبې کې سَنکټ پیټرسبورګ ته لیږلي وو. د هغه مهال د جرمني حکومت د بلشویکانو سره «په بیلابیلو شکلونوپرله پسې مالي مرسته » کړې وه چې خپل اخبار «پروډا د تبلیغاتو لپاره غښتلی کړي او د خپل ګوند نړی اساس ارت کړي.» لاندې چینې ولولئ

R.R. Palmer Joel Colton, A History of the Modern World. New York: Alfred Knopf, 1978, pp. 670-671: “A railway car full of Bolsheviks, carefully <sealed> to prevent infection [inspection?] of Germany, was thus hauled by a German train to the frontier, whence it passed on to St. Petersburg, or Petrograd, as the city was named during the war [1914 to 1918].” Also, Reform-Theology.org writes: “ It was not until the Bolsheviks had received from us[German government] a steady flow of funds through various channels and under varying labels that they were in a position to be able to build up their main organ *Pravda,* to conduct energetic propaganda and appreciably to extend the originally narrow *base* of their party. Von Kühlmann, minister of foreign affairs, to the Kaiser [Wilhelm II], December 3, 1917. In April 1917 Lenin and a party of 32 Russian revolutionaries, mostly Bolsheviks, journeyed by

train from Switzerland across Germany through Sweden to Petrograd, Russia.” [6 October 2015].

د بریست – لیتوفسک تړون په ۷ ماده کې افغانستان او ایران «ازاد او خپلواک دولتونه» ګڼل شوي وو، او شوروي روسیې او جرمني ژمنه کړې وه چې د افغانستان او ایران د خاورې بشپړتیا اواقتصادي استقلال ته به په درنه سترګه کسي. د تړون ۷ ماده اعلانوي چې د بریست – لیتوفسک د تړون له لارې، د هغه مهال

“In view of the fact that Persia and Afghanistan are free and independent States, the contracting parties obligate themselves to respect the political and economic independence and the territorial integrity of these States” (J.W.Wheeler-Bennett, Brest-Litovsk: The Forgotten Peace, March 1918. Paperback: Nabu Press,USA, 2014, pp. 379- 407.

دشوروي روسیې(چې په ۱۹۲۲ کې شوروي اتحاد واوښتله) او د پانګه وال جرمني ملي ګټې په دې کې وې چې د خپل ګډ غلیم (برتانیې) مخه ونیسي. جرمن-امریکایي تاریخپوه لودویګ ادامیک کاږي چې په ذکرشوي تړون کې د افغانستان او ایران د استقلال او د خاورې د بشپړتیا ماده د جرمني له خوا وړاندې شوې وه، او محمود طرزي پرې په سراج الاخبار کې خپله خوښي څرګنده کړې وه:« دغه شان اوس زموږ پخوانی استقلال دغتوقدرتونو له خوا منل شوی دی.» (سراج الاخبار،نمبر۲۳، جولای۱۹۱۸،۱۰: مخونه ۱۵تر ۱۶). دغه شان، په ۱۹۱۷ کې د تزاري روسیې له منځ تلل او په ځای یې د شوروي فدرالي روسیې ودریدل دا معنی لرله چې په ۱۹۰۷ کې د انګریز او روسیې تړون فسخ شوی و. ولولئ

Ludwig W. Adamec, Afghanistan’s Foreign Affairs to the Mid-Twnetieth Century: Rela-tions with the USSR, Germany, and Britain. Tucson, Arizona: The University of Arizona Press, 1974, p. 59

په ۱۹۰۷ کې د روسیې په پیټرسبورګ کې، برتانیې او روسیې په ایران او افغانستان کې د خپل نفوذ د ساحو تړون رامنځته کړ، چې که په دې ډول د جرمني نفوذ تم کړی شي. بې له دې چې د افغانستان امیر حبیب الله خان( ۱۹۰۱تر ۱۹۱۹) یې په دغه تړون خبر کړی وي. دوه کالونه وروسته امیر حبیب الله خان د دغه تړون په اکله «کلک اعتراض» وښود او له لاسلیک کولو نه یې ځان وژغوره. د لومړئ نړئ والې جګړې له پایې نه لږ وروسته امیر حبیب الله خان د خپل هیواد د ناپییلتوب په بدل کې د هغه مهال د برتانوي هند له وایسرا چیلمسفورډ نه داسې غوښتنه وکړه چې د خپل هیواد « له خپلواکئ نه یې کمه نه وه». دغه وایسرا په لندن کې خپل حکومت ته په راپورکې لیکلي وو: «تر کومه حده» چې دی امیر حبیب الله خان «پیژني [د برتانیي] امپراتور یې په څو لکو روپو یا د ایران د شاه په څیر د لقب په ورکولو نشي قانع کولی.» ولولئ زما څیرکیار راتلونکې کتاب: د ناپوهئ تیارې او د پرمختګ ډیوې د افغاني کلتور په چوکاټ کې له عبدالرحمان خان نه تر اشرف غني احمدزی: ۱۸۸۰تر ۲۰۱۵

د خپلواکئ غوښتنې په اړه د امیر حبیب الله خان(۱۹۰۱تر ۱۹۱۹) هغه هڅې هم پام وړ دي چې د ۱۹۰۵ په تړون کې یې کړې دي. د برتانوي هند حکومت په دې ټینګار کاوه چې د امیر عبدالرحمن سره ډیورنډ تړون شخصي و او د هغه د ناستن (امیر حبیب الله) سره د بیامذاکرې وړو. د برتانوي هند حکومت هڅه وکړه چې که له امیر حبیب الله خان نه د مذاکرې له لارې امتیازات لاسته راوړي، لکه داچې د پښتونخوا د سیمو په سیاست کې به لاس وهنه نه کوي

او د افغانستان او برتانوي هند په منځ کي د مومندو پوله (بورډر) به ټاکي. برتانوي هند امیر حبیب الله خان د «غټ» فشار لاندې ونیو: مالي مرستي یې پرې بندې کړې، او افغانستان ته د وسلې د راړلو مخه یې ونیوله. خو امیر حبیب الله «تسلیم نشو.» هغه د برتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر لویس ډین کابل ته راوغوښت. وروسته له درې میاشتو مذاکرو، **«د افغانستان او د مربوطاتو خپلواک پاچا»** (**اینډیپنډینټ کینګ** آف افغانستان آنډ ډیپینډنسیز) او لویس ډین په کابل کې د ۱۹۰۵ د مارچ په ۲۱ تړون لاسلیک کړ. د تاریخ پوهاند ادامیک کاږي چې « دا د امیر[حبیب الله خان] لپاره یو ستر بری و»، ځکه چې برتانیه خپلو هدفونو ته ونه رسیدله: باقي مالي مرستي یې چالان کړې او ویې **منل چې د افغانستان په داخلي چارو کې به لاس نه وهي.** دغه تړون د امیر امان الله خان په واکمنۍ کې له منځه لاړ. ولولئ

Ludwig W. Adamec, Historical Dictionary of Afghan Wars, Revolutions, and Insurgencies. Second Edition. Maryland: Scarcrow Press/Roman and Littlefield Publishing Group, 2005, p 60

ادامیک کاږي چي امیر حبیب الله خان «واضحاً» ځان د ۱۹۰۵ تړون په متن کې « د افغانستان د دولت او مربوطاتو **خپلواک پاچا»** معرفي کړی و: یعني«**پادشاه خود مختار مملکت افغانستان و حدودات متعلقه آن**»[ لر افغانستان/پښتونستان] .

د لومړئ نړیوالي جګړې(۱۹۱۴تر۱۹۱۸) په پای ورپسې، د ۱۹۱۹ په جنورۍ کې په پاریس/ویرسای کې د سولي کانفرانس جوړشوی و چي غټ قدرتونه یکي برتانیه، فرانسه، امریکا، او ایټالیه وو. د ۱۹۱۹ د فبرورۍ په دوهمه، امیر حبیب الله خان وایسرا چلمسفورډ(۱۹۱۶ تر ۱۹۲۱) ته ولیکل چي په ذکر شوي کانفرانس کې دې د افغانستان **«دایمي خپلواکي»** په لیکلي ډول په رسمیت وپیژندل شي. ولولئ ادامیک، ۱۹۷۴، مخ ۴۵

شاه شجاع (۱۸۰۳تر ۱۸۰۹؛ ۱۸۳۹تر۱۸۴۲) په ۱۸۰۹ کي په هند باندې د فرانسي او روسیي د ممکن یرغل په ضد د برتانیي سره تړلواله جوړه کړې وه. انګریز ښکیلاک ګرولومړی پینور په ۱۸۳۵کي د رنجیت سینګ له لارې له افغانستان نه وشوکاوه. ورپسي یې په ۱۸۷۹ کې د ګندمک د تړون له لارې افغانستان په نیمه مستعمره/تحت الحمایه واړاوه: د افغانستان بهرنی او دفاعي سیاست د انګریزانو په غوښتنه او مشوره پوری وتړل شو. په ۱۸۹۳ کې انګریزانو ډیورنډ تړون په امیر عبدالرحمن خان(۱۸۸۰تر۱۹۰۱) وروتاپه. په ۱۹۰۱ کې انګریزانو په لَر افغانستان کې «شمال غربي سرحدي صوبه»/ولایت جوړ کړ . دغه تش نوم (اسم بی مسما) یې د دې لپاره غوره کړی و چي د پښتون/افغان پیژاند ته پاټک واچوي. د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره، انګریزانو د ۱۹۴۷ په اګست کې « د تاریخ معجزه» (پاکستان) راوویست چي د انګریزانو امانتګر میراث خور و. انګریز ښکیلاکګرو بحر ته د افغانستان لار غوڅه کړه، او په دې ډول یې په ټول افغانستان کې د راتلونکي اقتصادي او سیاسي پرمختګ لپاره غټ خنډ راپیدا کړ. د نولسمې پیړۍ له پیل راهیسي دغي استعماري عملیې، او امپریالیستي دسیسي ( په ۱۹۴۷ کي د پاکستان راتوږل) د ټول افغانستان ملي ګټو(د خاورې بشپړتیااو د هیوادوالو نیکمرغۍ او امنیت) ته کلک زیان رسولی دی

د ۱۹۱۹ د اپریل په ۱۳(۱۱\۲۳\ ۱۲۹۸هجري لمریز) امان الله خان په عامه دربار کې د برتانوي استازي په مخ کې ځان خودمختار او افغانستان خپلواک اعلان کړل. د وزیرستان ولس په دواړو جګړو (۱۹۱۹د خپلواکۍ جګړه؛ ۱۹۲۹ د غلواکۍ/بچه سقاوۍ جګړه) کي ټاکونکی رول لوبولی و. د وزیرستان نومیالی عسکري او ولسي شخصیت یار محّمد خان وزیری(۱۸۷۱تر۲۶اګست ۱۹۷۲) د خپلواکي په جګړه کي ولسي غونډ مشرو او د غلواکۍ (بچه

سقاویٔ) په جګړه کې ولسي جنرال و. هغه امان الله خان ته ګران و. جنرال یار محمّد خام وزیری په خپل کتاب کې د خپلواکۍ د جګړې په اړه داسې لیکلي دي: **«زموږ د سیمو تقریبا دوه زره» غازیان شهیدان شول.** خو «د خپلواکۍ د جګړې نه وروسته زموږ برخه لیک بیا هغه برخه لیک شو چې د اعلیحضرت امان الله خان د نیکه او د فرنګیانو د استازي **ډیورنډ په ناولي تړون** کې ټاکل شوی و او[موږ] یو ځل بیا د رودونو وینو تویولو نه وروسته د ښمنانو ته لاسترلي وسپارل شو.» په داسې حال کې چې غازیان د جګړې په ډګر کې بری لاسي وو او انګریزان ځغاستي او ماتي ته اړکړل شوي وو، **غازیان اریان وو چې ولې به امان الله خان د مغلوب غلیم سره د اوربند وړاند یز منلی وي؟!** د اوربند پیشنهاد **«بې له دې چې زموږ مشرانو سره یکې سلا او مشوره وکړي» ومنل شو.** د ۱۲۹۸المریز(۱۹۱۹ زییز) د خپلواکۍ په غزا کې « زموږ سیمې بیا د متارکې په پریکړو کې د افغانې او فرنګې[انګریز] هیئتونو له خوا په فرنګیانو پورې وتړل شوې **او زموږمجاهدینو له نظره دا دریم ناولی تړون و.»** فرنګیان د تودې جګړې په مورچل کې « زموږ له لاسه مغلوب شوي وو، او دې لره تیار وو چې د غالب قوت ټول شرایط په ځان ومني....» زما ځیرکیار په آند، د ټول افغانستان په وینو ګټلې خپلواکۍ د قلم په نوکه پنچر شوه. په ۱۹۱۹کې د خپلواکۍ د تړون له لارې ضمناً دوه موضوع ګانې د پام وړ دي: د ۱۸۷۹په ګندومک تړون کې د افغانستان تحت الحمایه حالت بالعمل شنډ شو، خو د ۱۸۹۳ په ډیورند تړون کې ملت اوځمکه ویشونکي واقعیت د ۱۹۱۹ په تړون کې له پامه لویدلی و. ۲۸ کالونه وروسته چې په ۱۹۴۷ کې پاکستان د لویدیز د سیاست لپاره د یو ایجنټ او کومپرادور دولت په ډول راوتوړل شو، په بر (اوسني) افغانستان کې حکومت د لر افغانستان سیمه پښتونستان و نوموله. مناسبه به دا وای چې اوسنی افغانستان **«لویدیز افغانستان»** اعلان شوی وای او د پښتونستان په ځای د **«ختیزافغانستان»** نوم غوره شوی وای. د ډیورند د رټلي تړون له لارې غوڅ شوی افغانستان د خپلو عمومي ملي ګټو(پخپله د دولت ځان ساتنې/سیلف پریزرویشن، خپلواکی، عسکري امنیت، اقتصادي هوساینې، او د خاورې د بشپړتیا) په خوندي کولو کې بې وسه پاتې شو.

امیر امان الله خان ( له ۱۹۲۶ راهیسې پاچاامان الله خان) سم د لاسه اقدام وکړ چې نوی خپلواک شوی نیمایي افغانستان له بین المللي انزوا نه راوباسي او د نورو خپلواکو هیوادونو سره یې دپلوماتیک اړیکې ټینګ کړي. دپلوماتیک اړیکې ټینګول د دولت اعتبار غښتلی کوي، او دغه اعتبار په ملي ګټو کې شمیر کېږي. برتانیې هڅه وکړه چې په نړۍ کې د خپلواک نیمایي افغانستان د پیژندګلوۍ مخه ونیسي. افغانستان مجبور و چې د ګاونډیو هیوادونو سره اړیکې ټینګې کړي. ایران،ترکیې او شوروي فدرالي روسیې( له ۱۹۲۲ راهیسې شوروي اتحاد) د افغانستان په شان د برتانیې له لاس وهنو نه کرکه لرله. او له دې امله د افغانستان لپاره اسانه وه چې په ۱۹۲۱ کې د هغوی سره د دوستۍ تړونونه لاسلیک کړي. د افغانستان دپلوماتیکه ډلګۍ له مسکو نه اروپا او بیا امریکې ته رسمي سفر وکړ، تر څو له دې لارې د بین الدول تړونونو زمینه برابره کړي او په بین المللي سویه د افغانستان اتبار ټینګ کړي

نامتو امریکایي تاریخپوه چارلز اوستین بیرډ (۱۸۷۴تر ۱۹۴۸) په ۱۹۳۴ زییز کې د جورج هوارډ ایډوارد سمیت (۱۸۹۸تر۱۹۶۲) سره د ملي ګټو په اړه دا کتاب راوویست: د ملي ګټې مفکوره: د امریکې د بهرني سیاست یوه تحلیلي مطالعه. نیویارک ۱۹۳۴. دلته سیمې (خاورې) او تجارت ته ګوته نیول شوې ده. بیرډ یو بل مهم کتاب هم لیکلی و: [د امریکې] د متحدو ایالتونو د اساسي قانون یو اقتصادي تفسیر، ۱۹۱۳. یعنې په دغه اساسي قانون کې د موسسو پلرونو اقتصادي ښیګڼو ته پاملرنه شوې وه. د دواړو کتابونو اصل سرلیکونه داسې دي

Charles Austin Beard and George H.E. Smith, The Idea of National Interest: An Analytical Study in American foreign Policy(New York: Macmillan Company, 1934 (New edition: Greenwood Publishing: December 1977); Charles A. Beard, An Economic Interpretation of the United States Constitution. 1913(Dover Publications, 2004).

د برتانوي او روسي استعمار سره د افغانستان د ترخې تجربې له امله افغان واکمنان له ۱۹۱۹ راهيسي دې پايلې ته رسيدلي وو چې: (الف) د برتانيې او شوروي اتحاد له اختلافونو او کړکيچونو نه د افغانستان په ګټه کار واخلي، او (ب) د قدرت د انډولتوب لپاره د برتانيې او شوروي اتحاد د قدرت په مقابل کې يو دريم قدرت ته نږدې شي. انډولوونکی يعني دريم قدرت بايد يو داسي هيواد وي چې د استعمار منګولې يې افغانستان ته نه وي رارسيدلي، په افغانستان کې د ملي ټولنې د جوړيدلو سره غليمي ونلري، او د افغانستان له پولو نه په لرې واټن کې پروت وي. ټولټال د افغان واکيالانو (سياستمدارانو) تحليل داسي و چې جرمني او امريکې ذکر شوي شرايط لرل او په تخنيکي او اقتصادي لحاظ يې هم د دې وس لاره چې د افغانستان په پرمختګ کې مرستندوی شي. د برتانيې د مخنيوي لپاره جرمني عملاً د افغانستان د ملي سياست سره علاقه وښودله. خو د امريکې دريځ دا و چې افغانستان د دوه ګاونډيو قدرتونو(شوروي اتحاد او برتانيې) د نفوذ په انګړ کې پروت دی او د امريکې لپاره تجارتي ګټه نلري. کله چې دوهمې نړۍ والې جګړې زور وميند، افغانستان هم د امريکې له خوا په رسميت و پيژندل شو. په ککاز(قفقاز) کې جرمني قواو پرمختګ وکړ. دغه پرمختګ د متحدينو مراوده د ايران په مينځ کې د خطر سره مخامخ کړه. او په دې ډول افغانستان ته اړتيا محسوسه شوه. ناشونی به نه وي چې امريکې د همدغې اړتيا له امله افغانستان د ۱۹۴۲ زييز د جولای په مياشت کې په رسميت وپيژاند او په کابل کې يې ډپلوماتيک دفتر (ليګيشن) پرانيست (ليګيشن له سفارت نه ټيټ مقام لري). د سړې جګړې په هلې ګولې او ګواښ کې، په افغانستان کې د امريکې ډپلوماتيک دفتر د ۱۹۴۸ زييز په جون کې د سفارت پړوۍ ته جګ شو او ايلي پالمر چې له ۱۹۴۵ راهيسي په کابل کې و، د امريکې لومړی سفير شو.

په شوروي فدرالي روسيه کې ډير زر داخلي جګړه(۱۹۱۸تر۱۹۲۱) پيل شوه. سره (بلشويکان يعني کمونستان) او سپين (د انقلاب ضد روسان) د يوبل سره په کلکه جګړه کې ښکتي وو. د سپينو سره د پانګه وال هيوادونو(امريکې، برتانيې، فرانسې...جاپان) مرسته روانه وه. ۱۴ بهرنيو هيوادونو د شوروي/ کمونيستي روسيې داخلي غليمان په وسلو، پيسو او عسکرو سمبالول. مثلاً شل زره امريکايي عسکرو په دغه داخلي جګړه کې برخه لرله، او له اووه(۷) ميليون زيات کمونيست او ضد کمونيست روسان د خاورې خوراک شول. جګړه د لينين پلويانو يعني کمونيستانو په ۱۹۲۱ کې وګټله. ځينو هيوادونو د بلشويکانو/کمونستانو سره غليمي لرله، ځينو غوښتل چې که په روسيه کې نوې مستعمرې رامنځته کړي، او نورو غوښتل چې روسي - شوروي وسلې جرمنيانو ته په لاس ورنشي. خو کله چې داخلي جنګ د کمونستانو په ګټه پای ته ورسيد، ولاديمير لينين «د نوي اقتصاد سياست» ته پاملرنه وکړه . دغه سياست چې له ۱۹۲۱ تر ۱۹۲۸وغځيد، په پانګه وال دولتونو او تجارتونو راڅرخيده: «بې له دې چې هيڅ شي غير دولتي [ډينشنلايزد] شي، د کارګرو دولت ځيني معدنونه، ځنګلونه، تيلي کانونه او داسي نور، بهرنيو پانګه والانو ته په اجاره ورکوي، د دې لپاره چې له هغوی نه زيات لوازم او ماشينونه لاسته راوړو. دا کار به موږ قادر کړي چې د شوروي غټ صنايع غښتلي شي.» ولولئ

V.I. Lenin, “Thesis for a Report on the Tactics of the Russian Communist Party. Collected Works, Vol. 32 (Moscow: Progress, 1969) quoted in Daniel S. Papp. Contemporary International Relations. New York and London: Macmillan Publishing Company, 1984, p. 191

د لویدیزو پانګوالانو یعني طبقاتي غلیمانو سره د لومړی کمونیستي واکمنی د موسس لینین سازش په واقعیت کي د نـوي ۴ کلن شوروي اتحاد ملي ګټي تمثیلولي. د لینین «دنوي اقتصاد سیاست» هغومره د شورویانو د کـور- کالـي- ډوډی د ګټلو لـپاره و لکه د هغوی د عملي اقتصاد د چلونو(مهارتونو) د زده کولو لپاره چي و. اقتصاد د هر هیواد د ملي ګټـو یوه کوټلـي بـرخـه جوړوي. ستالین د نوي اقتصاد سیاست، په ۱۹۲۹ کي لغوه کړ او په ځای یې ۵ – کلـن پلان راوویست. ولولی

Nicholas V. Riasanovsk and Mark D. Steinberg, A History of Russia. New York: Oxford University Press, 2005; Alec Nove, An Economic History of the USSR,1917-1991. London and New York: Penguin Books, 1992; Kendall E. Bailes, Technology and Society under Lenin and Stalin: Origins of the Soviet Technical Intelligentsia, 1914-1941. Princeton: Princeton University Press, 1978

د دوهمي نړی والي جګړې په مهال (۱۹۳۹تر ۱۹۴۵) د فاشیزم او نازیزم په ضد ټلواله کي څلور ستر قدرتونو (امریکا، برتانیي، فرانسي او شوروي اتحاد) خورا غټ رول لوبولي و.د دوهي نړی والي جګړي په وروستني پـړاو کي ولسمشر روزویلت د ۱۹۴۵په اپریل له نړی سترګي پټي کړې او ځای یې مرستیال ولسمشر هیري ټـرومَن (۱۹۴۵تر ۱۹۵۳) ونیو( هغه په ۱۹۴۴ کي مرستیال ولسمشرشوی و). د ولسمشر ټـرومن په اراده د ۱۹۴۵ په اګست کي د جاپان په دوه ښارونونو(هیروشیما او نګاساکي) اټم بمونه وغـورځول شول، نه یواځي د دې لپاره چي د جاپان د امپراتور پوځ ورسره په ګړندي ډول ماتي ومني، بلکي د جبهي انـډیوال شوروي اتحاد هم په غوږ ووهي. دا عمل د ساړه جنګ پیل شو، او په نړی کي د کمونیزم او کپیټلیزم تاوتریخوالي زور ومیند. په دې ډول د امریکي واکمنو کړیـو غوښتل چي ځان له بل سیال (شوروي اتحاد) نه هم خلاص کړي. هیري ټـرومن چي له ۱۹۳۴ راهیسي لس کالونه سناټور و، په شوري اتحاد باندې د نازي جرمني د یرغل په اړه داسي ویلي وو: «که موږ وینو چي جرمني [جنګ] ګټي، موږ باید د روسیي سره مرسته وکړو، او که روسیه یې ګټي موږ باید د جرمني سره مرسته وکړو، او په دې ډول هغوی پـریـږدو یـوبل دومره ډیر ووژني چي ممکن وي[ لیټ دیِم کِیل اِیز میني اِیز پاسیبل].» ولولئ

The New York Times, 24 June 1941. Quoted in Daniel S. Papp, op.cit., p. 193

عملاً همدغسي وشول: دوهمه نړیواله جګړه پوره شپـږ کالونه او یوه ورځ اوږده وه ( ۱ سپتمبر ۱۹۳۹تر ۲ سپتمبر ۱۹۴۵). دانیل پَپ چي د بین المللي اړیکو ډاکتري لري او له ۲۰۰۶ راهیسي د کینیسا دولتي پوهنتون رئیس دی، په خپل ذکر شوي کتاب کي د ولسمشر هیري ټرومَن د پورتني اقتباس په اړه لیکي چي: د دوهمي نړیوالي جګړې په مهال د امریکي او بـرتانیي عملیاتو د دوی د ستراتیجی په اړه د ستالین اټکل روغ وښود: په قاروي یورپ، یعني جرمني باندې یرغل لومړی له ۱۹۴۲ نه ۱۹۴۳ته وځنډید او وروسي تر ۱۹۴۴، په داسي حال کي چي « شوروي اتحاد او جرمني د یو بل عسکر په وینوولړل.» ولولئ همدغه چینه. په دوهمه نړی واله جګړه کي د شورویانو بشري تلفات: ۲۶،۶( شپږویشت عشاریه شپـږ) میلون وګړي وو چي آتـه عشاریه اووه (۸،۷) میلیون عسکر هم پکي شامل وو

د دوهمي نړیوالي جګړې په مهال د امریکې ملي ګټي په دې کې وې چې دواړه افراطي غلیمان ( په جرمني کې د هیټلر نازیزم او په شوروي اتحاد کې کمونیزم) پریږدي چې یو بل ډېر وزپي، او بیا د یوه سره په عسکري ملاتړ کې ودریږي. لویدیز متحدینو د لومړي ځل لپاره د ۱۹۴۴ د سپتمبر په ۱۱، په قاروې جرمني برید وکړ، په داسې حال کې چې دوهمه نړیواله جګړه پینځه کالونه وړاندې د ۱۹۳۹ د سپتمبر په لومړۍ نیټه پیل شوې وه. د شوروي اتحاد پوځ د ۱۹۴۴ د اکتوبر په ۲۳ په جرمني برید وکړ، د ۱۹۴۵ د اپریل په ۱۶ یې د هغه مهال د جرمني پلازمېنه (د برلین ښار) محاصره کړه، او یوه اونۍ وروسته (۲۳ اپریل ۱۹۴۵) برلین ته ورننوت. دوه ورځې وروسته (۲۵ اپریل ۱۹۴۵)، د شوروي او امریکې عسکر د یو بل سره د «ایلبي سیند» په غاړه کې مخامخ کیږي، او په دې ډول جرمني بالعمل په دوه برخو ویشل کیږي. ۵ ورځې وروسته (د ۱۹۴۵ د اپریل په ۳۰)، د شوروي اتحاد عسکر د ادولف هیټلر په زمکې لاندې ځای را تاویږي. هیټلر په دغه نیټه ځان وواژه. د فلسفي او ادبیاتو ډاکترجوزیف ګوبَل چې د هیټلر د ډېډورو وزیر و او هیټلر ته ډېر منلی و، د خپل لاربنود (فیوهرر) مړی یې د یو څو نږدې دوستانو په مرسته راوویست او بهر یې په باغ کې کښیښود او هلته وسوځول شو. یوه ورځ وروسته (د مې په لومړۍ نیټه)، ګوبل لومړی خپلو شپږ ماشومانو ته زهر ورکړل. ورپسې یې خپله میرمن او بیا ځان په تمانچه وواژه. د ګوبل یاور مړي و سوځول. بله ورځ د شوروي اتحاد عسکرو د هغوی نیم سیځل شوي برخي ومیندلي

په داسې حال کې چې شوروي اتحاد د اټم بمب د جوړولو پروژه د ۱۹۴۲ په فبرورۍ کې پیل کړې وه، د امریکې ولسمشر روزویلټ د امریکې د اټم بمب د جوړولو پروژه تقریباً څلور میاشتې وروسته (۱۷ جون ۱۹۴۲) تصویب کړه. جرمن نژاده برتانوي کلاوس فوښس/فوکس د ۱۹۴۵ د فبرورۍ په ۱۶، شوروي اتحاد د امریکې، برتانیې او کاناډا په ګډه اټومي پروژه خبر کړی و. فوښس/فوکس ( ۱۹۱۱ تر ۱۹۸۸) په جرمني کې زیږیدلی و او د یوه عیسوي مولوي ځوی و. پلار یې په لَیپځیګ پوهنتون کې د الهیاتو(تیولوجی) پوهاند و او ځوی یې هلته محصل و. کلاوس فوښس هلته د سوشل دموکراتیک ګوند د محصلینو له ټولني نه په ۱۹۳۲ کې وویستل شو او ورپسې د جرمن کمونیسټ ګوند سره غبرګ شو. د ۱۹۳۳ په فبروۍ کې د جرمني د پارلمان سیب (تعمیر)ته چې چا اور واچاوه، فوښس به ځان پټ ساتلو او انګلستان ته وتښتید. هلته یې دفزیک ډاکترۍ لاسته راوړه او د مهمو ساینس پوهانو سره یې کار کاوه او بیا د برتانیې په اټومي پروژه کې هم مصروف شو. په ۱۹۴۴ کې یې د نیویارک په اټومي پروژه کې هم کار کاوه. کلاوس فوښس به د یوې لیکوالي جرمنی کمونیستي له لارې شوروي اتحاد ته د اټم بمب په اړه معلومات ورکول. نوم یې اورزولا کوچینسکي ( روت ویرنَر، یا اورزولا هَمبورګ) و. پټ نوم یې «سونیا» و او د شوروي اتحاد په عسکري استخباراتو کې ماموره وه. اَویریل هریمن چې په یوه پانګه واله امریکایي کورنۍ کې زیږیدلی و، د د دموکرات ګوند غړی و. هغه له اکتوبر ۱۹۴۳ تر جنوری ۱۹۴۶،په شوروي اتحاد کې د امریکې سفیر و. د دوهمې نړیوالي جګړې جګړې په پای کې یې په برلین کې د امریکې کوماندان ته داسې ویلي وو: « د هیټلر خورا غټ جنایت» دا و چې «د ختیز یورپ دره یې اسیا ته بیرته کړه.» مطلب یې شوروي اتحا د بریښي. د اقتباس لپاره ولولئ

Howard H. Quint, Dean Albertson and Milton Cantor, Main Probems in American History. 1987. 5th edition. Dorsey Press, 1988, p. 325

په زیږ ۱۹۴۵ کې د دوهمې نړۍ والې جګړې په پای ته رسیدلو سره، د قدرت په تنظیم کې بدلون راځي او د غوڅ شوي افغانستان واکمنان هم دیته اړکیږي چې خپل بهرني سیاست ته د وخت د شرایطو په رڼا کې نوی نظر

واچوي. د دوهمي نړۍ والي جګړې په پای کې پخوانی ستر قدرت (برتانیه) را ټیټیږي او ځای یې نوي ستر قدرت (امریکا )ته پاتي کیږي. هم مهال یو بل متضاد ستر قدرت (شوروي اتحاد) ډګر ته را دانګي؛ د شوروي اتحاد په څنګ کي په اکتوبر ۱۹۴۹کي، یو نوی ملګری او ګڼ نفوسه ګاونډي هیواد (ولسي چین) خپلواکی ته رسیږي چې په نړي اتکل سره به یې په دغه کال کي ۴۹۰ ملیون وګړي لرل (په ۱۹۵۳ کې یې نږدې ۵۸۲ نیم ملیون نفوس لاره).

د ۱۹۴۵ په جون کي د ۵۱ هیوادونو له خوا د ملګرو ملتونو سازمان جوړ شو چې نوم یې د هغه مال د امریکې ولسمشر فرانکلین دیلانو روزویلټ راویستلی و او د لومړي ځل لپاره د ۱۹۴۲ د جنوری په لومړی نیټه د ملګرو ملتونو په اعلامیه کې کارول شوی و. افغانستان چې په ملګرو ملتونو کي د ۱۹۴۶ د نومبر په ۲۶ غړی شوی و، د یواځیني هیواد په څیر یې د ۱۹۴۷د سپتمبر په ۳۰ د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې د پښتونستان د کړکیچ له امله د پاکستان د غړیتوب په ضد رای ورکړه .له دوهمې نړۍ والي جګړې وروسته، د ملګرو ملتونو موسسې د سولې د تامین لپاره خاپوړې کولې. هم مهال د ملتونو د خودارادیت چغې په پخوانیو مستعمرو کي زور واخیست. نړۍ د «لویدیز» او «ختیز» په ټکر کې چې په یو سر کې یې امریکا او په بل کي یې پخوانی شوروي اتحاد ولاړ و، ساه وباسي او د «دریمي نړۍ» احساس راټوکیږي، خو د لویدیز او ختیز په مینځ کې یرغمل کیږي. دریمه نړۍ پوځي او تخنیکي قدرت ته نه رسیږي او یواځې د سیاسي شته والي (ناپیپیلتوب سیاست) بڼه نیسي

امریکي او برتانیي د کمونیزم د مخنیوي لپاره په سهیلي لویدیزه اسیا کي اسلامي هیوادونه (پاکستان، ایران، ترکیه، عراق) په خپلو لویدیزو ډلګرتیاو کي وروټومبل. افغان واکمنانو خپلي ملي ګټې په دې کې لیدلې چې د ډلګرتیاو په ځای د سوله ییزې همزیستۍ او مثبت ناپیپیلتوب سیاست وپالي، په افغانستان کي د ټکرمنو قدرتونو(امریکا او شوروي اتحاد) له سیالی نه ګټه واخلي، او د پښتونستان له موضوع نه د تاریخي واقیعیت، ملي مجبوریت، او حقوقي اصل (د خودارادیت د حق) په رڼا کي دفاع وکړي، او د استعمار پټې لومې وشلوي. هغه مهال د افغانستان بهرنی سیاست په مجموع کې په دې استدلال ولاړ و:

(الف) که د کمونستانو تنده د هند د بحر په تودو اوبو ماتیږي، نو باید چې لومړی افغانستان او بیا پاکستان له کومي تیر کړي. یانې د کمونیزم په وړاندې دفاع په افغانستان کې اغیزمنه ده، نه په پاکستان کې! له دې امله باید ډیر پام یا لږ تر لږه مساوي پام افغانستان ته وشي چې د پخواني شوروي اتحاد سره یې اوږده سیاسي پوله لرله.

(ب) پاکستان ډیره ویره له هندوستان نه لرله، نه له پخواني شوروي اتحاد نه.

(پ) د ۱۹۴۷ د اګست په ۱۴ ، پاکستان د برتانیې په زور او دسیسو د اسلامي اډې په څیر راوتوړل شو. له دینه نږدې اته میاشتې وروسته (د ۱۹۴۸ د مي په ۱۴)، د اسرائیلو دولت خلق شو. په دغه اکله څوګینټې وروسته د امریکي ولسمشر هیري ترومَن(۱۹۴۵ تر ۱۹۵۳) وویل چې : « دا حکومت اطلاع لري چې په فلسطین کې یو یهودي دولت اعلان شوی دی، او د هغه ځای موقت حکومت هیله من شوی دی چې په رسمیت وپیژندل شي. د امریکي د متحدو ایالتونو حکومت د اسرائیلو د نوي دولت موقت حکومت د بالعمل قدرت [ډیفکټو اَوتاریټي] په حیث پیژني.» د افغان واکمنانو په فکر، د برتانیې په مټ د اسرائیلو د حکومت خلق کیدل او په ګړندي ډول د امریکي د حکومت له خوا د اسرائیلو د دولت او حکومت په رسمیت پیژندل هغه ترخه واقعیتونه دي چې د نړۍ په تیره پخپله د منځني ختیزمسلمانان یې په اسانی سره نشي زغملی، او له دې امله د کمونیزم په ضد د لویدیزې نړۍ او د اسلامي هیوادونو ډلګرتیاوې (بغداد پَکټ، سینټو، سیاټو) ربنتونی بنسټ نلري.

(ت) د افغانستان او د شوروي اتحاد د ۱۹۳۱ د تړون په بنسټ، دواړه اړخونه نشي کولی چې د يوبل په ضد د دريم هيواد سره ډلګرتيا وکړي.

(ټ) کـه افغانستان د لويديزوالوپه ډلګرتياو کې ګډون وکړي، ناشوني به نه وي چې دغه عمل پخوانی شوروي اتحاد په افغانستان باندې بريد ته وهڅوي او د دغسې يرغل په اړوند کې افغانان ډاډه نه دي چې غربيان به د افغانستان د خاورې بشپړتيا تضمين کړي

وړاندې مې په ولسي چين او شوروي اتحاد کې چې عين کمونيستي ايډيالوجي يې لرله، د ملي ګټو په اړه د هغوی ټکر وښود. اوس به د کلکو غـليمو ايډيالوجيو ټلواله را جَـوَته کړم. دغه ټلواله د شوروي کمونيستي واکمن ستالين او د جرمني د نازي – فاشيستي «لاربنود»هـيټلـر په مينځ کې د ۱۹۳۹ زيږيز د اګيست په ۲۳(۳۱ ځمری ۱۳۱۸هجري لمريز) را منځته شوه چې عموماً د هيټلـر- ستالين پَکټ په نوم ياديدله. هيټلر په جرمني کې د ۱۹۳۳ د جنوری په ۳۰، په قانوني ډول د جرمني په جمهوريت کې لـومړی وزيـر (صدرراعظم) شو (په پارلمان کې٪۴۴ د هيټلر نازيان د ٪۵۲ نيشنليستانو سره غبرګ شول. له پارلمان نه کمونيستي غړي ويستل شـوي وو). جاپان د ۱۹۳۷ د جولای په ۷، په چين يرغل وکړ او په ارام سمندر کې يې دوهمه نړيواله جګړه پيل کړه. هـيټلر د برتانيې په ضد ستالين ته مخ ورواړاوه. د جرمني د بهرنيو چارو وزير فون ريـبينتروف په مسکو کې د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو د وزير مولوتوف سره تړون لاسليک کړ. هغه مهال ستالين د شوروي عسکري قواو په غښتلتيا پسې ملاتړلي وه. هم مهال هيټلر غوښتل چې پولينډ ونيسي، بې له دې چې د بل چا مقاومت او مرسته ورسره وي. په پټ ډول دواړه خـواوې دې تـوافـق ته رسـيدلي وې چې ختيز يورپ به په يو ډول په خپل مينـځ کې ويـشي. د هـيټلر او ستالين د تړون لپاره «د شـر ټلواله» په سرليک لاندې کتاب ولولئ

Roger Moorhouse, The Devil's Alliance: Hitler's Pact with Stalin, 1939-1941. Basic Books, October 2014

خو د ۱۹۴۱ په جون کې د هـيټلر قواو په شوري يرغل وکړ، او په پايله کې د ۱۹۳۹ تړون مات شو. فرانس او برتانيې د شوروي اتحاد سره ډپلوماتيک تماسونه ونيول، او هـڅه يې وکړه چې د تجارتي او نورو تړونونو له لارې يې ځانته رانږدې کړي، او له دې لارې ادولف هـيټلـر وپوهوي چې شوروي اتحاد يې هم په ضد دی. هيـټلر په دې پوهيده چې که په پولينډ بريد وکړي، شوروي اتحاد به تماشچي پاتي نشي، ځکه په پولينډ باندې بريد به د جرمني پوله شوروي اتحاد ته ورسوي. هيټلر په دې هم خبر و چې فرانس او شوروي اتحاد څو کالونه وړاندې دفاعي ټـلـوالـه جـوړه کړې وه. د ۱۹۳۹ د سپتمبر په لومړۍ نيټه نازي جرمني په پولنډ يرغل وکړ او په يورپ کې يې دوهمه نړيواله جګړه پيل کړه. دوه ورځې وروسته، فرانس او برتانيه د جرمني په ضد جګړه اعلانوي، خو د ۱۹۳۹د سپتمبر په ۵، امريکا ناپيلتوب غوره ګڼي. د ۱۹۴۱ د دسمبر په ۷، جاپان د ارام سمندر په شمال کې د «هـوای » نومي مجمع الجزاير په «پَـرل هاربر» بندر کې د امريکې په بحري قـوه کلک بـريد کوي. يوه ورځ وروسته (۸ دسمبر) امريکا او برتانيه د جاپان په ضد جنګ اعلانوي، او د دسمبر په ۱۱، هيټلر د امريکې په ضد جنګ اعلانوي. دلته وينو چې هيوادونه په څه ډول په خپلو ملي ګټو پسې ګرځي

فـرنکلين ډيلانو روزويلټ په امريکا کې درې دورې ولسمشر و(۱۹۳۳تر ۱۹۴۵). دغه مهال ادولف هـيټلرهم د جرمني صدراعظم او «لاربنود» و. روزويلټ ليکي چې: «په سياست کې هـيڅ څه تـصادفاً نه پيـښيـږي. که پيـښيـږي، ډاډه اوسئ چې دغه ډول به پلان شوی و.» لـه ۱۹۲۹ راهـيسې نړۍ وال اقـتصادي رکـود رامنځـته شـوی و، او د نـورې نړۍ په شان يې په امـريـکا هـم وزرې خپـرې کـړې وې: په امريکا کې د شپـيته ميليون کارګرانو نه

۱۵ ملیون کارګران بیکار وو، یعني هر څلورم کارګرکارنه لاره. نړدې هر بانک ترل شوی و. د دوهمي نړیوالي جګړې په مهال (۱۹۳۹تر ۱۹۴۵)، په امریکا کي اقتصاد او عسکري صنایع پرمخ لاړل. روزویلټ ویلي وو چې په کال کې به پنځوس زره (۵۰۰۰۰) الوتکې جوړیږي. تر۱۹۴۴ به امریکي په کال کي شپږنوي زره (۹۶۰۰۰)الوتکي جوړولې. د دوهمې نړیوالې جګړې په اوږدو کي، امریکي نږدې ۳۵۰ (درې سوه پنځوس) بیلیون ډالرې ولګولې. دغه مبلغ دوه چنده د هغه مبلغ و چې د امریکې حکومت په خپل ټول تاریخ کې تر دغه مهاله لګولی و. ناخالص ملي تولید له ۱۹۳۹ تر ۱۹۴۵، لـه دوه چنده زیات شوی و. د ۱۹۳۹ په پای کې (پوره دوه کالونه وړاندې له دې چې امریکه په دوهمه نړیواله جګړه کي برخه واخلي)، روزویلټ دې پریکړې ته ورسید چې په ملي دفاع کي پانګه واچوي. په ۱۹۳۷ کي عسکري د ملي بودجي لس سلني (٪۱۰) جوړولې، خو په ۱۹۴۰ کي یې برخه ۱۷سلنو (٪۱۷) ته جګه شوه. ولسمشر روزویلټ د خپلو خلکو د تقاعد لپاره د «ټولنیزې خاطرجمعی» (سوشل سیکیوریتي) بیمه راوویسته او غټې اقتصادي دولتي پروژې یې رامنځته کړې وې. یعني دوهمې نړیوالې جګړې د امریکې سره مرسته وکړه چې اقتصادي بحران شنډ کړي، خپله عسکري ټکنالوجي غښتلي کړي، او د نړۍ د زبرځواک مقام ته جګ شي.

نوربیا